# وزارت امورمهاجرین وعودت کنندگان

# د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت

## د اطلاعاتو او عامه اړیکو آمریت

# خبري بلوټن

# News Bulletin

۱۹ عقرب _سال ۱۴۰۱





# اخبار مهم

افغانستان - منطقه - جهان

## فهرست مطالب


عنوان صفحه

فواید تذکره الکترونیکی برای عودت کننده ها ی ولایت غزنی توضیح شد ----------------------------------------------۱

بغلان کې د یو ښوونځي د ترمیم چارې پیل شوې ---------------------------------------------------------------۲

به بیش از هزار خانواده در کاپیسا کمک نقدی صورت گرفت-----------------------------------------------------۳

درې ولایتونوکې شاوخوا (۲۰۰) کورنیوسره مرستې وشوې-------------------------------------------------------٤

71نفر مهاجر افغان، از پاکستان برگشت نمود --------------------------------------------------------------۵

د ایران څخه له) ۸ (زرو زیات افغان مهاجر وطن ته راستانه شول-------------------------------------------------۵

کمیته ادغام مجدد عودت کنندگان ، بیجاشد ها و سیستم ثبت معلو مات ولایت زابل دوباره فعال شد. ------------------٦

پاکستان کې پولیسو تر زرو ډېر افغان کډوال نیولي دي--------------------------------------------------------۷

د کډوالو مخنیوی: له ترکیې سره پر پوله یو بلغاریایی پوله ساتونکی په ډزو وژل شوی ---------------------------۹

حمله بر اقامتگاه‌های پناهجویان در آلمان افزایش داشته است ----------------------------------------------- ۱۱



خبرنامه

# متن کامل اخبار

## فواید تذکره الکترونیکی برای عودت کننده ها ی ولایت غزنی توضیح شد

ویب سایت وزارت



**مزایای تذکره الکترونیکی در کمپاین تبلیغاتی که از طرف ریاست امور مهاجرین غزنی برای عودت کننده ها به تاریخ۱۸ عقرب دایر شده بود، توضیح شد.**

**طبق معلو مات واصله، درکمپاین که درمنطقه نو آباد مرکز ولایت غزنی ازطرف ریاست امور مهاجرین، به همکاری اداره احصاییه وبه کمک دفترUNHCR، برگذار شده بود، جمع از عودت کننده ها و مردم محل حضور یافته بودند.**

**در جریان این برنامه، تیم تبلیغاتی متشکل از ریاست امور مهاجرین واداره احصاییه ولایت غزنی در رابطه به مزایای تذکره الکترونیکی و تذکره قبلی، شیوه اخذ فورم و طی مراحل آن به حاضرین معلو مات ارایه نمودند.**

**گفتنی است که منطقه نو آباد ، از جمله ساحات دارای عودت بلند، در مرکز آنولایت به شمار می رود.**



وزارت امور مهاجرین و عودت کنندگان د مهاجرینو او راستنیدونکو چارو وزارت
Website: https://morr.gov.af
Fb page: https://m.facebook.com/morr.gov

## بغلان کې د یو ښوونځي د ترمیم چارې پیل شوې

دوزارت ویب سایت



د (UNHCR) دفتر له لورې د بغلان ولایت د مهاجرینو چارو ریاست په همکارۍ د لړم په ( ۱۷) مه د پلخمري ښار د حاجي هاشم  سیمې  د چشمه شېر لېسې  د ترمیم چارې پیل شوې.

د بغلان ولایت د مهاجرینو چارو ریاست  د معلوماتو له مخې  دغه ښوونځی د (۴) میلیونه، (۳) سوه (۶۶) زره او ( ۶۲۸)  افغانیو په لګښت د (۱۶۰)  دوه نفرې میزونو او چوکیو په برابرولو سره ترمیمیږي.

د یاد ښوونځي د بیا رغونې د پیل په مراسموکې  د مهاجرینو چارو، پوهنې، خبریالانو او د سیمې خلکو ګډون کړی و.

## به بیش از هزار خانواده در کاپیسا کمک نقدی صورت گرفت

ویب سایت وزارت



برای یکهزارو ۴۳ خانواده بیجاه شده درولایت کاپیسا به تاریخ ۱۷ عقرب مساعدت دفتر **UNHCR** توزیع شد.

**مساعدت یادشده برای هر فامیل مبلغ ۲۷۵ دالر امریکایی بود که در هماهنگی با ریاست مهاجرین آنولایت توزیع شد.**

## دري ولایتونوکې شاوخوا (۲۰۰) کورنیوسره مرستې وشوې

دوزارت ویب سایت




د (CHA) موسسې له لورې د عزني، میدان وردک او پروان ولایت د مهاجرینو چارو ریاست له لورې د لړم په ( ۱۷) مه ( ۱۹۵) کورنیوسره نغدي مرستې وشوې.

د یادو کورنیو له ډلې په پروان ولایت کې ( ۲۵) کورنیو ته (۲۶) زره افغانۍ، په غزني کې ( ۳) کورنیو ته (۴۶) زره افغانۍ او په میدان وردګو کې (۱۶۷) کورنیو هرې کورنۍ ته (۲۶) زره افغانۍ نغدې ووېشل شوې.

## 71نفر مهاجر افغان، از پاکستان برگشت نموده

ویب سایت وزارت

**به اساس گزارش آمریت نماینده گی تورخم، ۱۳ خانواده مهاجرافغان ازپاکستان ، به تاریخ ۱۷ عقرب عودت نموده اند.**

**به گفته منبع ۹ خانواده شامل ٤۲ بدون اسناد، ۱۵ تن دیپورتی و ١٤ تن دارای اسناد که از مرز تورخم به وطن برگشت نموده و بعد از ثبت در سیتم معلوماتی عودت کننده گان به موسسات IOM وUNHCR جهت کمک معرفی شده اند.**

## د ایران څخه له) ۸ (زرو زیات افغان مهاجر وطن ته راستانه شول

دوزارت ویب سایت




**د نیمروز ولایت د وربښمو پل او هرات ولایت د اسلام قلعه له لارې د لړم په ( ۱۵) مه او (۱۷) مه (۸۶۵۹) افغان مهاجر هېواد ته راستانه شول.**

**د هرات ولایت د ا سلام قعله د آمر د معلوماتو پربنسټ ( ۶۰) کورنی، چې (۲۷۵) تنه کېږي د (۱۷۰۱) تنو نورو مجردینو سره د لړم په (۱۷) مه هېواد ته راستانه شوي.**

**هغه زیاته کړه، چې له ډلې یې ( ۲۸۸) تنه د مرستو په موخه د مهاجرت نړیوال سازمان (IOM) ته ور وپېژندل شول.**

**د یوبل خبر له مخې د نمیروز ولایت د وربښمو پل له لارې ( ۱۶۸۳) تنه افغان مهاجرد لړم په ( ۱۵) مه او (۱۷) مه هېواد ته راستانه شوي.**

د نیمروز ولایت د مهاجرینو چارو د رئیس په خبره په یادو راستنېدونکو کې (۱۳۰) کورنی چې ( ۵۶۰) تنه کېږي او (۶۱۲۳) تنه نور مجردین و، چې له ډلې ( ۱۰۷۵) کورنی د مرستو په موخه د مهاجرت نړیوال سازمان (IOM) ته ور وپېژندل شول

## کمیته ادغام مجدد عودت کنندگان ، بیجاشد ها و سیستم ثبت معلو مات ولایت زابل دوباره فعال شد .

ویب سایت وزارت



هیأت اعزامی وزارت امور مهاجرین، کمیته ادغام مجدد عودت کنندگان و بیجاشد ها و سیستم ثبت معلو مات ولایت زابل را با همکاری دفتر UNHCR به تاریخ 17عقرب دوباره فعال نمود.

در مراسمی که به آن مناسبت به اشتراک مسوولین ادارات دولتی و نهاد های همکار در آنولایت دایر شده بود، سلیمان بهیر معاون والی زابل با قدر دانی از وزارت امور مهاجرین، از ادارات و موسسات همکار خواست که مطابق طرز العمل کمیته ادغام مجدد، با اداره امور مهاجرین درقسمت عرضه خدمات همکاری نمایند.

سپس هیأت اعزامی وزارت امور مهاجرین با ارایه پریزینتیشن اهداف، مسوولیتها و شیوه کار کمیته ادغام مجدد و سیستم ثبت معلو مات را به حاضرین توضیح نمود.

## پاکستان کې پولیسو تر زرو ډېر افغان کډوال نیولي دي

کډوال نیوز



په پاکستان کې د طالبانو سفارت خبر ورکوي چې د دغه هېواد پولیسو په تېرو څلوېښتو ورځو کې تر زرو ډېر افغان کډوال نیولي دي. ویل کېږي چې د نیول شویو په ډله کې داسې کسان هم دي چې د اوسېدو قانوني اسناد لري.

د طلوع نیوز د یو خبر له مخې، په پاکستان کې د طالبانو سفارت وايي چې پاکستاني پولیسو له تېرو څلوېښتو ورځو راهیسې تر ۱۲۵۰ زیات افغان کډوال نیولي دي. د اسلامي امارت سفیر سردار احمد شکیب ویلي دي چې ځینو داسې کسانو هم ورته شکایتونه کړي دي چې مهاجر کارتونه لري او له ډېرې مودې راهیسې په پاکستان کې ژوند کوي.

بل لور ته د بي بي سي پښتو څانګه د پاکستانی مدافع وکیلې منیره کاکړ له قوله وايي چې د سند ایالت پولیسو څه باندې ۱۱۰۰ افغان کډوال نیولي دي. نوموړې ویلي دي چې۳۴۰ کډوال په جمشرو او ۷۰۰ تنه نور په کراچی کې نیول شوي دي. په وینا یې د بندیانو په ډله کې ښځې او ماشومان هم دي.

آغلې کاکړ زیاته کړې ده چې داسې ښکارېږي چې ډېری دغه افغانان د اسنادو د نه لرلو له امله نیول شوي دي، خو په ډله کې یې داسې کسان هم شته چې د اوسېدو قانوني اسناد لري.

دغه وکیله چې د ځینو نیول شویو له کورنیو سره په اړیکه کې ده بي بي سي ته وايي چې د سند پولیسو د ځینو بندیانو له خپلوانو د ۲۰۰ زره پاکستاني کلدارو غوښتنه کړې ده.

بل پلو طلوع نیوز کراچۍ کې د طالبانو د قنسولګرۍ له قوله وايي چې یو افغان کډوال د پاکستان په یو زندان کې مړ شوی دی خو جسد يې تر اوسه افغانستان ته نه دی لیږدول شوی دی. کراچۍ کې د طالبانو د قنسول عبدالجبار له خولې ویل شوي دي چې د مړ شوي کډوال زوی چې دین محمد نومیږي اوس په زندان کې دی او د چارواکو د هڅو سربېره تر اوسه نه دی خوشی شوی.

دا په داسې حال کې ده چې پرون سه شنبه ځینو رسنیو پاکستان کې د طالب چارواکو له قوله وویل چې کراچۍ کې د افغانستان قنسولګرۍ په هڅو ۳۰ کسان له بنده خوشي شوي دي.

تر دې دمخه د پاکستان په سند او کراچۍ کې د افغان کډوالو د نیول کېدو په هکله راپورونه خپاره شوي وو. خو فعالان وايي چې تېرو څو وختونو کې د نیول شویو افغانانو په شمېر کې زیاتوالی راغلی دی.

بیا ولولئ :پاکستان: پولیسو ۲۶ سند نه لرونکي افغانان نیولي، سلګونه نور بندیان دي

په ورته مهال د افغانستان پخواني ولسمشر حامد کرزي پرون سه شنبه له افغان کډوالو سره د پاکستان حکومت چلن وغانده او له ملګرو ملتونو او د بشري حقونو مدافع بنسټونو څخه يې غوښتنه وکړه چې په پاکستان کې د افغان کډوالو له حقونو دفاع وکړي.

نوموړي دغه راز د پاکستان له حکومت څخه غوښتي دي چې له افغان کډوالو سره د نړیوالو قوانینو پر اساس چلن وکړي.

د ۲۰۲۲ د اګست په ۱۵مه افغانستان کې د طالبانو بیا واکمنی سلهاوو زره افغانان د خپل هېواد پرېښودو ته اړ کړل. ډېریو دغو افغانانو د افغانستان ګاونډیو هېوادونو پاکستان او ایران ته پناه وړې ده.

## د کډوالو مخنیوی: له ترکیې سره پر پوله یو بلغاریایی پوله ساتونکی په ډزو وژل شوی

کدوال نیوز




بلغاریایي چارواکي وایي چې د تېرې دوشنبې په ورځ له ترکیې سره پر پوله یو بلغاریایی پوله ساتونکی په ډزو وژل شوی دی. چارواکو د دې سرتېري د وژنې پېره پر قاچاق وړونکو اچولې ده. دا په داسې حال کې ده چې د بلغاریا د کورنیو چارو وزارت شمېرې ښيي چې د دغه هېواد امنیتي ځواکونو د روان کال په لومړیو نهو میاشتو کې تر ۱۲ زره غیرقانوني کډوال نیولي دي .

د بلغاریا د کورنیو چارو وزارت وایي چې د دغه هېواد یو پوله ساتونکی د تېرې دوشنبې په ورځ له ترکیې سره پر پوله د ګزمې پر مهال د انساني قاچاق وړونکو په ډزو وژل شوی دی. دغه وزارت زیاتوي چې پېتار بچاروف هغه مهال ووژل شو چې د خپل یو همکار سره یو ځای ګولیام دېروېنت کلي ته نږدې سرحدي دېوال کې یوه سوره موندله.

زیاته شوې ده چې پر دواړو ګزمه کوونکو د ترکیې له خاورې څخه لس تر پنځه لس ځله ډزې شوې دي. دغه پېښه کې د پېتار بچاروف همکار ته زیان نه دی رسېدلی.

د بلغاریا چارواکو د پېښې پېره پر قاچاق وړونکو اچولې ده. همدارنګه څارنوالانو د بلغاریا دولتي تلویزون ته ویلي دي چې ترکي چارواکو د پېښې په تړاو یو شکمن کس او د هغه همکار نیولي دي. داسې ویل کېږي چې نیول شوي کسان د ترکیې اتباع نه دي.

**د يادولو ده چې تېره اګست مياشت <u>دوه بلغاريايي سرتېرې هغه مهال ووژل شول</u> چې غوښتل يې يو بس ودروي چې کډوال يې انتقالول. دا پېښه وروسته له هغه رامنځ ته شوه چې يوه بس چلوونکي د بورګس ښار د پوليسو په دوو پستو کې د خپل موټر له درولو ډډه وکړه. موټر چلوونکي ورپسې د ترابزيتسا په څلور لاره کې بايسکېلو ته ځانګړي شوي مسير ته داخل شو چې له امله يې د پوليسو يو موټر، د بس تمځي او له يو ښاري تشناب سره ټکر وکړ.**

**بلغاريا په ۲۰۱۵ او ۲۰۱۶ کلونو کې د کډوالو د څپو د مخنيوي لپاره له ترکيې سره پر پوله ازغن تار ولګاوه چې ۲۷۰ کيلومتره اوږدوالی لري. خو ډېرې وختونه بلغاريايي پوله ساتونکي په دغو سرحدي ځنډونو کې سوري مومي. د بلغاريا د دفاع وزير دميتار ستويانوف رسنيو ته ويلي دي چې له ترکيې سره پر پوله د ازغن تارونو پر ځای بايد دېوالونه جوړ شي.**

**بيا ولولئ :<u>د کډوالو د څپو مخنيوی: بلغاريا څو سيمو کې بېړنی حالت اعلان کړی</u>**

**تر ۱۲۰۰۰ ډېر غيرقانوني کډوال نيول شوي**

**په تېرو څو وختونو کې د بلغاريا په ګډون بالکان هېوادونو کې د کډوالو شمېر تر پخوا زيات شوی دی. ډېری دغه کډوال هڅه کوي چې له ترکيې څخه ځانونه بلغاريا ته ورسوي.**

**د بلغاريا د کورنيو چارو وزارت شمېرې ښيي چې د دغه هېواد چارواکو د روان کال د جنورۍ تر سپتمبر پورې ۱۲۷۴۰ غيرقانوني کډوال نيولي دي .**

**د بلغاريا سرحدي پوليسو په وينا، د نيول شويو ۱۲ زرو کډوالو له ډلې ۱۸۵۵ تنه يې بلغاريا ته د ننوتو په حال کې، ۱۷۵۹ تنه د کورنيو چارو وزارت له اجازې پرته له هېواده د وتو په حال کې او ۹۱۲۶ تنه نور بلغاريا کې دننه نيول شوي دي چې دغه شمېرې د تېر کال همدې مودې پرتله ۲،۶ سلنه ډېروالی ښيي.**

**بيا ولولئ :<u>بلغاريا: پلازمېنه صوفيا کې ۳۵ بې سنده کډوال نيول شوي دي</u>**

**زياته شوې ده چې امنيتي ځواکونو يوازې په سپتمبر مياشت کې ۲۸۲۲ غيرقانوني کډوال نيولي دي چې له دغې ډلې ۵۶۳ تنه يې بلغاريا ته د ننوتو په حال کې، ۳۸۱ تنه د کورنيو چارو وزارت له اجازې پرته له بلغاريا څخه د وتو په حال کې او پاتې ۱۸۷۸ تنه په بلغاريا کې دننه نيول شوي دي.**

**چارواکو ويلي دي چې دغه شمېرې د اګست مياشتې په پرتله ۲۳،۳ سلنه زياتوالی ښيي.**

## حمله بر اقامتگاه‌های پناهجویان در آلمان افزایش داشته است

دویچه وله




**بر اساس یک گزارش شمار حملات بر اقامتگاه‌های پناهجویان در آلمان بار دیگر افزایش داشته است. به گزارش روزنامه «نویه اوسنابروکه» رقم حملات در سه ربع اول سال روان تقریبا برابر با تعداد مجموعی حملات در سال گذشته است.**

**شمار حملات بر اقامتگاه‌های پناهجویان در آلمان بعد از سال ها بار دیگر افزایش یافته است. چنانچه روزنامه «نوی اوسنابروکه» آلمان گزارش داده است، در سه ربع اول سال روان میلادی ۶۷ حمله بر اقامتگاه های پناهجویان وجود داشته است. این تقریبا برابر با تعداد کل حملات در سال ۲۰۲۱ بوده است. این روزنامه معلومات را به نقل از پاسخ وزارت داخله آلمان به پرسش حزب چپ‌ها نشر کرده است.**

**در سال گذشته مقامات ۷۰ مورد حمله و آسیب زدن به أموال را ثبت کرده بودند که عمدتاً با انگیزه‌های راستگرایانه صورت گرفته بود. روزنامه افزوده است که با توجه به افزایش گزارش‌ها در مورد حملات به اقامتگاه‌های پناهجویان، احتمالاً این آمار در ماه‌های پیش رو افزایش یابد. دلیل آن احتمالا افزایش شمار آوارگان جنگ اوکراین باشد.**

**مرتبط :آتش سوزی در اقامتگاه مهاجران در شهر باوتسن آلمان**

**طبق این گزارش، آمار حملات بر اقامتگاه‌های پناهجویان نسبت به زمان اوج بحران مهاجرت در سطح پایین‌تری قرار دارد. در سال ۲۰۱۵ میلادی ۱۰۴۷ مورد از این گونه حمله‌ها ثبت شده بود. از آن زمان به بعد این رقم همه ساله کاهش داشته است.**

از نظر آماری روزانه در آلمان دست کم دو حمله بر پناهجویان رخ می‌دهد .یک پنجم این حملات باعث آسیب جسمی می‌شود. ۷۱۱ تن در میان ماه های جنوری و سپتمبر ۲۰۲۲ خارج از اقامتگاه خود مورد حمله قرار گرفته اند.

مرتبط :برلین با وجود کاهش مهاجران، ده ها اقامتگاه جدید می‌سازد

کلارا بونگر، کارشناس أمور مهاجرت از جناح پارلمانی حزب چپ‌های آلمان گفته است: «در حال حاضر روزی نیست که در آن از حمله بر پناهجویان یا سرپناه های آنان چیزی نخوانید.» او افزوده است که وضعیت «بسیار خطرناک» است. به گفته او، سیاستمداران راستگرا و محافظه کار به نارضایتی مردم دامن می‌زنند .بونگر خواستار اقدامات علنی در برابر خشونت راستگرایانه و نژادپرستانه شد.

خبرنامه